دوی لومړ ی داقتصا د ی او تخنیکی همکار ئ په نوم یوه هیواد ته ننوځی او د د ی هیواد فرهنگی ارزښتونه او مقدسات چې دمارکسیزم لینینزم په مخالف جهت کښې واقع وی په مختلفو ذرایعو او تبلیغا تو تخریبوی اوبه عوض کې ئې مارکسیزم په مرغوبا نه بڼه کې عرضه کوی . دی کار ته د کودتا تروخته پور ی د وام ور کو ی . دکودتا نه وروسته چې عرضه شوی متاع په خپله اصلی بڼه کې ظاهیریږی نوخریدار د لاسه ورکوی ، خو اوبه تروړخ تیرې وي پدی وخت کې روسی استعمار په ذکر شوی هیواد باند ی مسلحا نه تیری کوی‌او لوم وربانډی ددوست هیواد بلنه ، دامپریالیزم مدا خله ، دالترنا سیونا لیستی وظیفی اجرا کول او نور ورډی .

دا د روسی استعما ر د جهان نیولې یوه منظمه طرحه او جوړ شوی پلان دی چې په ډیر لږ تفاوت سره یې په یو اویا بل هیواد کې سر ته رسوي.

ددریمې نړۍ په هیوادونو کې دروسي استعمار ننوتل؟ :

د اسوال چې ولې د دریمې نړۍ هیوادونه زیاتره د روسي استعمار په لومه‌کې لښلي ؟ د دې علت اقتصادي پرابلمو ته دی .د دریمې‌نړۍ‌هیوادونه مخ په انکشاف هیوادونه دي دوی دخپل انکشاف او پرمختګ لپاره له دوه لویوستونزو سره مخامخ دي . چې یو د سرمایې کمبود او بل د تخنیکي او اداري لایق پرسونل نشتوالی دی . ددې مشکل درفع کولو په خاطر دوی د پرمخ تللو هیوادو ولو سره ستې ته ځان اړ او محتاج ونیسي او نشي کولای چې دخپلو داخلي منابعو نه په کافي اندازه سرمایه تهیه کړي .

پرمخ تللي هیوادونه چې کومې قرضې وروسته پاتې هیوادونو ته ورکوي دهغې شرایط دومره سخت وي چې پور اخیستونکي مملکت لور هم دفقر او بدبختۍ کندې ته لویږي او نتیجه برعکس راوزي . اکثره قرض ورکوونکي ممالک نغدې پیسې د پور قرض اخستونکي هیواد په اختیار کې نه ورکوي . مثلاً د اوبو او برېښنا دبوه بند جوړولو لپاره په قرار داد کښې داسې مواد ځای په ځای کوي چې ماشین آلات ، جنریترونه او دبرق

سامان به له هغې هیواد نه پلورل کیږي ، انجنران او تخنیکي پرسونل به لمعمدی مملکت نه استخدامیږي او په هغه اندازه معاش به ورکول کیږي چې دخپل متبوع دولت نه‌ئې اخیسته ، قرضه وروسته له لسو کلونو نه باید واپس شي او په کال کې به پنځه پاشپیږ فیصده سود تادیه کیږي لسو پړی حساب که فرضاً قرضه شل میلونه ډالره وي نو څه پیسې دماشین الاتو دخریډ په اثر د و باره هما غه هیواد ته انتقالیږي . څه پیسې دسود په شکل بیرته دقرض ورکوونکي مملکت لاس ته ورځي . او څه پیسې دانجنرالو معاش او خرڅه شي . همدا علت د ی چې فقیر هیواد ونه لور هم فقیر او ثروتمند لور هم ثروتمند کیږي .

همدغه هیوادونه چې د غربي دولتونو نه ناامیده شوي وي روسانو ورته کمین نیسي په تبلیغاتو او داسانه پورونو د وعدې‌په ورکولو سره له‌څو کودتا ګانو له‌وروسته د روس‌په‌اقمارو او تحت الحمایه رژیمونو بدلیږي.

دروس کمونیستي هیواد چې خپلې قرضې د سیاسي پراختیا غوښتنې د دمقصدونو دپاره استعمالوي طویل ـ المدت پلانونه طرح کوي چې په نتیجه کې له ۲۵ یا ۳۰ کلونو نه وروسته مقروضي هیواد حتماً

دد وی په لومه‌کې لښلي او ټول اقتصادي منابع ئې په‌دوره بې‌رحمانه توګه لوټ اوتالا کوي .

دوی خپلې قرضې په ابتداء کې په ډېرو اسانو شرایطو سره عرضه کوي حتی د قرضې سود د دوو یادرې فیصدو نه تجاوز نه کوي . د بیرته ور کولو میعاد ئې‌هم شل یا پنځه ـ ویشت کاله وي . داقرضه په دومره مهارت سره عرضه کیږي چې قرض اخیستونکي هیواد خوشحاله او هیڅ د خطر احساس نه کوي . د دې په څنګ کې‌ددوستي،همکارۍ اوپوډیل په کورنیو چارو کې د نه مداخلې اطمینان هم کال په کال ور کول کیږي . اودلورو پروژو قراردادونه یوپه بل‌پسې لاسلیک شي . له دې‌سره سره د جاسوسۍ د شبکو پرسونل د انجنرالو او ماهرینو په لباس کې ور لیږي چې اوضاع اوحالات مطالعه کړي . خلک دخپلو مطبوعه دولتونو په مقابل کې تحریک او د کمونیزم سلطې منلو ته ئې تشویقوي .

په افغانستان کې روسانو ددې لپاره چې د دوی حرکاتو ته‌څوک متوجه نشي نود خپلو خلقي او پرچمي مزدورانو پواسطه ئې داسې تبلیغات اوتلقینات کول چې : شورویان د نورو په داخلي چارو کې نه مداخلت استقلال اود ارضي تمامیت په اصولو

عقیده لری . د افغانستان د نیولو خواهش ورسره نشته اوکه در لودلی لی نوهغه امکانات چی روسان لی لری کولی شی په پنځو ساعتو نو کی افغانستان لاندی کړی . خو د روسانو محاسبه د افغانستان د اشغال په برخه کی دومره غلطه وه چی له لیکه مرغه په (۹) کلونو کی د دوی د ستونی نه تیر نشو او افغانستان د روسانو لپاره یو داسی ناسور زخم دی چی د همدی زخم نه به د دوی امپراطوری د مرگ او زوال کندی ته لویږی .

د کمونزم د پراختیا غوښتنی سیاست :

د کمونزم منځ ته راتلل په هغه طریقه سره چه مارکسیستان لی په خپل نشراتو کی تشریح کوی په تمامه معنی توپیر لری . مارکیستان وائی چه د کمونیزم د راتگ لپاره اولین شرط دا دی چی مملکت باید صنعتی شی . تر څو چی پرولتار یا منځ ته راشی . بیا د اپر و لتریا په مارکسیستی لیننستی گوند کی متشکل کیږی . خپلو مبارزو ته شدت ور کوی او انقلاب راولی .

خو د عمل په ساحه کی دا نظر بالکل غلط دی او مونږ د روس په شمول داسی یو هیواد نشو پیدا کولی چی پدی طریقه کمونستی انقلاب پکښی راغلی وی . او که له دې لارې سوسیالستی پداونوله منځ ته راتلای شوای نو په

غربی ترخه کی به منځ ته راغلی وو نو څکه روسانو دا تاکتیک پریښی او .صرف د تبلیغاتو په ساحه کی ورنه کار اخلی .

روسان کوښښ کوی چی دوی د خپلی نقشی لاندی هیواد کی اول د پښی ځای پیدا کړی . کله یی چی د پښی ځای پیدا کړ نو یو څو کسو مزدورانو ته د کودتا پروگرام ورکوی چی د راډیو ستیشن او یو څو دولتی ودانی تر څلویښت ساعتو پوری ونیسی تر څو دوی ته د قواو د پیاده کولو لپاره بهانه پیدا شی . پر دوی پاندی خپل حرص دومره ستر گی پټی کړی دی چی سوسیالستی او غیر سوسیالستی هیوادونه ، نه گوری همیشه د خپل ځان د رنده اود نورو سپکه کوی او دی کار دوی د زیاتی رسوائی سره مخامخ کړیدی .

چین چی یو سوسیالستی دولت دی هلته هم روسانو د خپل سفارت له لاری غوښتل چی دلین پیاو پواسطه نظامی کودتا وکړی خو موفق نشول که هدف د سوسیالستی جوړول وی نو په چین کی خو سوسیالستی نظام برقرار ؤ نور ورته څه غوارې ؟

پولینډ چی یو سوسیالستی دولت دی . کارگری گوند هم پکښی بر سر اقتدار دی . خو کله چی کار گری حزب او کارگری اتحادیه د روسانو په مخالفت کی راپورته شوه . نود نظامی قواو پواسطه ئی کارگران سرکوب کړل .

دا مثالونه پدی دلالت کوی چی روسان د پراختیا غوښتنی اهداف لري او سوسیالیزم ددې هدف له پاره یوه وسیله ده چی د نړکه سوله لی له ستر

بقیه در ص ۳۲

دهیواد له یو مجاهد او تجربه کار عالم سره مرکه

پوښتنه : د رهبری دمقام مشاور محترم منګل ، که مهربانی وکړی اوخپل ځان معرفی کړی ښه به وی .

ځواب : زمانوم مولوی محمد ـ منګل دغزنی ولایت اوسیدونکی یم په ۱۳۰۵ هـ ش کال کی زیږیدلی اوخپلی لومړنی زده کړه می په خپل لږدی چاپیریال کی له جیدو علماؤ له پیل کړی اونور دینی تحصیلات می په لوګر ، میدان او پغمان کی تر سره کړل خو وروستنی تحصیلات می دهغه وخت د کابل دقضاء په مدرسه کی سرته ورسول .

پوښتنه : تاسو چی دقضاتو له عالی مدرسی څخه دفراغت بری لیک ترلاسه کړ بیا مو په رسمی چوکاټ کی وظیفه پیل کړه اوکه مو دوطن د بچیانو په دینی روزنه پیل وکړ .

ځواب : زه چی د قضا تو له عالی مدرسی فارغ شوم لود لومړی ځل لپاره دپکتیا ولایت د(وزی)ځدـ رانو په ولسوالی کی دقاضی په توګه مقرر او د وطن دخدمت دپیل ویاړمی ترلاسه کړ .

پوښتنه : آیاکولای شو په دی پوه شو چی تاسو دقضاتو د درندی وظیفی داجراکولو تر څنګ کوم بل داسی مصروفیت هم درلود چه دوطن دبچیانو په سالمه روزنه کی مثبته اغیزه ولری .

ځواب : رښتیا چی دینی تعلیم او تربیه د شرعی امالو دلاس ته راوړلو اوپه دی لار کی دمشکلاتو او خنډونو دمخنیوی یواځینی لار ده او هر دینی عالم باید ددولت درسمی وظیفی تر څنګ دوطن د بچیانو په سالمه روزنه کی هم مثبت رول ولری نو ماهم دهمدی درانده مسئولیت په احساس سره دقضا دوظیفی داجراً تر څنګ وخت په وخت دسیمی دبچیانو په دینی روزنه کی له خپله وسه سره سم برخه اخستی اوپه ښوونځی کی می په افتخاری توګه د دینیاتو او عقایدو ددرس وظیفه ترسره کړی ده .



مولوي محمد منګل

پوښتنه : داسی معلومیږی چه تاسو دخپل عمر زیاته برخه دوطن په خدمت کی دیوه تجربه کاره قاضی په توګه تیره کړی ده ، کولای شي ستاسو دوخت دقضا د چارو دواقعاً اسلامی چوکاټ په باب مونږ ته معلومات راکړی .

ځواب : په اسلامی هیواد ـ افغانستان کی هڅه کیده چی تولی قضایی فیصلی دقرآن ، حدیثو او فقهی حنفی په رڼاکی عملی شی اوقضایی محکمو دنبوی ﷺ شریعت په سیوری کی په پوره صداقت او ایمانداری

غوښتل چې خپله ورسپارل شوې وظیفه سر ته ورسوي ، او زموږ په مسلمان ملت کې د شرعي احکامو خلاف کومې فیصلې ځای نه درلود او نه کومې فیصلې ته د تطبیق ځای و چې په هغه کې به له نبوي شریعت څخه مخالفت وو .

پوښتنه : لطفاً ووایاست چې دیوه تجربه کار قاضي په توګه ستاسو دروستني مأموریت په کوم ځای کې او په کوم نامه و .

ځواب : په ۱۳۵۳ کال کې دغور ولایت د محکمو د رئیس په توګه وټاکل شوم او تر ۱۳۵۶ کال پورې مې په هغه ولایت کې د محکمو د رئیس په حیث خپله وظیفه سر ته ورسوله چې بیا د سوانحو او سجل له مخې په ۱۳۵٦ کال د دولت د مامورینو د قانون په اساس تقاعد شوم.

پوښتنه : بیا چې تاسو له دولتي چارو څخه لاس واخیست نو بیا مو څه مصروفیت درلود ؟

ځواب : رښتیا هم چې یو دیني عالم با یه یوازې او یوازې د دولتي چارو په اجرا پورې ځان تړلی ونه بولي بلکه په هر ډول حالاتو کې د خپلې تولنې د نیکمرغیاوو د لاسته راوړلو په برخه کې مثبتې هلې ځلې جاري وساتي ، زه هم د مجاهد ورور مرحوم مولوي صاحب عبدالهادي سره چې یو جید عالم و سعودي عربستان ته ولاړم تر څو له یوې خوا د حج فریضه د دوهم ځل لپاره اداکړم او له بلې خوا هلته له ځینې جیدو علماؤ سره لیدنې کتنې وکړم موږ لا په سعودي عربستان کې وو چې د اسلامي افغانستان په اسلامي فضا کې د کمونیزم د الحاد تورې لړۍ را خپرې شوې او کمونستانو د روس په ملاتړ کمونستي کودتا وکړه نوموږ نور زیات هلته پاتې کېدل لازم ونه بلل او له عمرې اداکولو څخه وروسته خپل هیواد ته راستانه شوو تر څو د هیواد والو په راپاڅولو او جهاد ته په تیارولو کې لازمه برخه واخلو دلته مو د سیمې له خلکو سره خصوصي لیدنې کتنې وکړې او د کمونستانو د ناروا پلانونو د مخنیوي له پاره مو جهادي هلې ځلې پیل کړې .

پوښتنه : محترم مولوي منګل د کمونستانو له کودتا وروسته چې تاسو خپل هیواد ته راستانه شوې او د مسلمانانو په پاڅون کې مو فعاله برخه واخستله نو خپل جهاد ته مو په افغانستان کې د ننه دوام ورکړ او که ددې تر څنګ موهجرت هم وکړ او بیا د هجرت له دیار څخه د جهاد په مقصد افغانستان ته ولاړې.

ځواب : زه چې له سعودي څخه خپل هیواد ته راستون شوم نو خپلې جهادي هلې ځلې مې په داسې ډول عیاري کړې چې د ښمن راباندې خبر نشي او زه وکړای شم په ډېر لږ وخت کې د دوی د اسلامي ضد فعالیتونو مخه ونیسم ، نو مې له هجرت څخه په خپل هیواد کې پاتې کېدل غوره و بلل تر څو د ۱۳۵۸ کال د ثور په ۱۹ نیټه موږ وکړای شول د څو سوه مجاهدینو په ګډون چې سل تنه وسله وال کسان یکې وو او هغه هم پداسې وسله سمبال وو چې اکثره یې د استعمال ور نه وه لکه لور ، تبر ، بېکاري توپک او توره داندړو په ولسوالۍ برید وکړو نژدې وه چې ولسوالۍ د مجاهدینو لخوا فتحه شي مګر د غزني ولایت څخه ټانګونه راورسیدل او مجاهدینو چې د ټانګونو د مقابلې لپاره لازم وسله نه درلوده نو د ولسوالۍ فتحه کېدل وځنډېدل .

پوښتنه : لطفاً ووایئ چې په سیمه کې د وسله وال جهاد له پیل نه وروسته بیا هم په سیمه کې پاتې شوې او که د هجرت لاره مو ونیوله ؟

ځواب : د همدې کال تر منې پورې مې په سیمه کې خپل مقدس جهاد جاري وساتلو خو پدې وخت کې زه د جهادي مرکز (پیښور) ته وغوښتل شوم او له یله پلوه د وسلې د کمبود احساس هم راسره زیات شو بیا د سیمې د مجاهدینو په خوښه او خواهش

بسم الله الرحمن الرحيم

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ۝ سورهٔ توبه- آیة ۱۲۹

ترجمه: اگر آنها روی از حق بگردانند (نگران مباش) بگو خداوند ج مرا کفایت می کند، هیچ — معبودی جز او نیست. بر او توکل کردم واو پروردگار عرش بزرگ است.

د پښتنې دلومړي مخ عکس:

دافغانستان دملي اسلامي محاذ نامتو قوماندان باز محمد خان (پرنګی)

شخصاً زه پیښور ته راغلم او کورنۍ
می په سیمه کی پا تی شوه . دلته د
تنظیمی چارو داهمیت له مخی زه په
دفتر کی مقررشوم دتنظیم په‌مرکزی
دفتر کی می خپلی جهادی هلی ځلی
جاری وساتلی اود حرکت انقلاب
اسلامی د عالی شوری دغړی اود
قضا دریاست دمرستیال په توگه می
وظیفی ته دوام ورکړ کله چه په
۱۳۵۹ کال جهادی تنظیمو نو په
خپلو کی اتحاد وکړ نو زه هم پدی
اتحاد کی دعالی شوری دغړی اود
مهاجرینو دکمیټی دمرستیال په حیث
و ټاکل شوم خو چی د افغا نستان
د حــرکت ا نقـلا ب ا سلا می
تنظیم دوه ځایه شو یا زه د محترم
مولوی نصرالله منصور په مشری
دافغانستان دحرکت انقلاب اسلامی
په تنظیم کی د مالی چارو د رئیس او
د عالی او اجرائیه شوری دغړی په
حیث منتخب شوم .

یا چه‌دافغانستان‌د مجاهدینو‌اسلامی
اتحاد (اوه گونی‌اتحاد)مینځ‌ته‌راغی
هلته هم زه د مهاجرینو دریا ست د
مرستیال او د عالی شوری د غړی
په توگه وټا کل شوم . خو چه د
اتحاد په ځای تنظیمو نو خپل خپل
کارونه‌پیل کړل نوزه‌له‌خپو مجاهدینو
سره دافغانستان ملی اسلا می محاذ
ته راغلم او دلته درهبری د مقام د
مشاور په حیث د مجا هدینو په
خدمت کی لگیا یم .

پوښتنه : محترم مولوی محمدمنگل
تاسو د افغانستان د اسلامی تولنی
د یوه تجربه کار مشر په توگه د
افغانستان د مجاهدینو اوسنی اتحاد
ته په کوم نظر گوری ، ایا دغه
اتحاد کولای‌شی‌دافغانستان‌دقهرمانو
مجاهدینو غوښتنو ته ځواب و وایی
او افغانستان‌ته دوږمړینو مسئلو دحل
په برخه کی مثبت رول ولوبوی ؟

ځواب : ـ کوم اتحاداویووالی چه‌د
(وعتصموا بحبل‌الله جمیعاًولا تفرقوا)
د مبارک ایت په سیوری کی مینځ
ته را شی نو په سلو کی سل یی
د کامیابی اوبریالیتوب‌چانس موجود
وی . دا چه زموږ تولنه یوه‌اسلامی
تولنه ده اوموږ‌خپل‌تول‌ژوند دخدای
(ج) د احکامو اونبوی ﷺ احادیثو
په رڼا کی عیار وو نو‌ځکه‌دغه اوسنی
اتحاد هم دیو رښتنی مبارک ایت په
سیوری کی مینځ ته راتلونکی دی
اوموږ په یوه داډ سره ویلای شوچه
انشا ء الله د دغه اتحاد په بر کت
به موږ په‌موجوده پیښو او کشالو
بری ومومو دا ځکه چه‌د تول‌مجاهد
ملت یوالځنی هیله او آرزو د مجاهدو
تنظیمونو تر مینځ پوره یووالی او
بشپړ اتحاد دی‌نو‌ان چه زموږ مشران
خپلو کی د یوه واقعی اتحاد رامنځ
ته کولو په‌درشل کی دی موږ باور
لرو چه د الله(ج) مرسته له موږسره ده

پوښتنه : ـ د رهبری د مقام محترم
مشاور صاحب تاسو د کابل دمزدور
رژیم په خوله د روسانو د تش په
نامه ملی روغی جوړی په باب اوله
هغوی سره د یوه ائتلافی حکومت
دجوړولو په باب څه نظر لری ؟

ځواب : ـ ستاسو د پوښتنی دلمړی
جز په باب زما نظر دادی چه ملی
روغه جوړه پدی حالاتو کی هیڅ
دبحث وړ‌نده‌ځکه‌زموږ ملت‌یومسلمان
ملت دی او دغه تول مسلمان ملت
د یو گروپ خلقیانو او پرچمیا نو
ملحدینو په مقابل کی چه د روسانو
د لښکرو له خوا یی ملا تړ کیږ ی
راپاڅیدلی دی لومړی‌خوروسان زموږ
د ملت جز ندی چه‌له هغوی سره ملی
روغه جوړه‌وشی دوهم داچه روسانو
زموږ‌په‌اسلامی خاوره وسله وال‌تیری
کړی دی کله چه تعرض له‌منځه‌ولاړ
شی او روسان له افغانستان ځخه
ووزی نوتول مشکلات به ورسره‌حل
شی دریمه دا چه خلقیان او پرچمیان
ملحدین دافغانستان د جامعی یوخوړا
وړوکی اقلیت ځمچه دگوتو په شمار
داسی کسان دی چه ملت یی هم له
خواری‌نوله‌هغوی سره ملی روغه‌جوړه
هیڅ د مطرح کیدو وړ موضوع نه
هدارنگه دافغانستان مسلمان ملت
نه یوالځی په خپلو کی خصومت او

دښمنی نه لري بلکه ټول په یو سنګر کې د ګډ او شریک دښمن په وړاندې د کلمة الله د اعلاء لپاره ولاړدي او د جهاد په سنګرونو کې پراته دي ـ نو ددوی دغه تش په نامه ډلوري زما په شخصي نظر بالکل د منلو وړنه دي

ستاسو د پوښتنې ددوهم جزپه اړه باید وویل شي چه موږ د کوم حدف لپاره وسله راخستې نو هغه هدف ته درسیدو تروخته هغه وسله په ځمکه نه ږدو . ترڅو پورې چه په افغانستان کې د کمونیزم دباطلې فلسفې یو پیرو هم موجود وي موږ به خپل جهاد ته ادامه ورکړو ، پاتې شوله له هغوی سره ائتلافي حکومت جوړول خو په مقدس جهاد اودیونیم ملیون شهیدانو پهپا کو وینو له لوبې کولو پرته بله معنی نلري نو نه یوازې زه بلکه د افغانستان د اسلامي ټولنې ټول مجاهد علماً ائتلافي حکومت په کلکه ردوو او ټول مسلمان او مجاهد ملت ته ددې اجازه نه ورکوو چه دغه شان بې معنی او غولونکي طرحې ته غاړه کیږدي .

پوښتنه : د مقدس جهاد پدې اوږده موده کې که کوم خوږه او ترخه خاطره لرئ نو مهرباني وکړئ بیان یې کړئ .

ځواب : که څه هم دجهاد پدې اوږده موده کې هره شیبه او هره لحظه داسې پېښې تکرارېږي چه دهرې یوې یا ـ ټول ډیر وخت غواړي خو ددې ټولو له جملې څخه زما یوه ډیره ترخه خاطره داده چه په ۱۳۵۸ کال کې کله چه زما جهادي هلې ځلې پیاوړې شوې نو دښمن زما او زما د کورنۍ دغړیو دنیولو او کور سوځولو فیصله وکړه که څه هم موږ خود دوی لاس ته ورنغلو خوزما کورته یې اور واچاوه وران یې کړ اود استوګنې له تاتوبي څخه یې محروم کړو ،

خوږه دې هم دردونکې خاطره هغه وړځ ده چې کله مې له رادیو څخه ددین او ملت دښمنه کمونست (ترکي) لوم واورید رښتیاچې په سیاسي قدرت د مارکسیستا نو قبضه هر بااحساسه زړه درداوه اوټنې ټولې تباهۍ سرې تصور کولای شوای.

د خوږې خاطرې په باب باید ووایم چه پدې موده کې هسې غمونه کړاونه او مصیبتونه زموږ په مسلمان ملت باندې تحمیل شوي او تحمیلیږي خو کله د کوم جنګ په دوران کې چه بري د مجاهدینو په برخه شي نو هغه لحظه د خوشحالۍ لحظه وي لوزما له خوږو خاطرو څخه هم یوه هغه وه چه کله په ۱۳۵۸ کال کې د خلقیانو یوه مجهزه قوه زموږ سیمې ته د عملیاتو له پاره راغله نو دحق د لارې مجاهدینو وکړای شوای چه په ډیره ابتدا یې وسله د ښمن ته نه یوازې ماتې ور کړې بلکه زیات مالي او ځاني تلفات یې هم ور ورسول نو د دغې ورځې د سختې جګړې په پای کې چه دښمن له زیاتو ټانکونو اولقایه وسایطو سرمسره په ماتې مجبور شو زما له پاره له هیریدونکې خوږه خاطره ده .

پوښتنه : تاسو دافغانستان داسلامي ټولنې دیوه مجاهد عالم او تجربه کار مشر په توګه د افغانستان مجاهد ولس ته که کوم پیغام لرئ مهرباني وکړئ .

ځواب : دافغانستان قهرمان ملت د مسلمانو سر ښندونکو مجاهدینو دردیدلو مهاجرینو او مسلمانو هیواد والو څخه زما هیله داده چه لکه څنګه چه دغه ۹ کاله یې د جهاد په مقدسو سنګرونو کې زړو ښان او د هغوی غلامان له شرمیدلې ماتې سره مامخ کړل همدغه شان پدې حساسو پېښو کې چه دافغانستان دخپلواکۍ د ترلاسه کولو او خوندي کولو او د اسلامي نظام د راوستلو ډیرې مهمې او تاریخي لحظې دي په خپل ټول قوت او پوره سپینت ، خپل اتحاداو یووالی وساتي او د افغانستان د راتلونکي حکومت په جوړ ولو کې

خپل اغیزمن رول واوبوی او د پوه داسی قیادت په را منځ ته کولو کی سره متفق شی چه وا قعاً هغه یو اسلامی قیادت وی او دټول مسلمان او مجاهد ملت درضایت او منلو وړ وی ځکه اوس د ګټی او تاوان وخت دی نو موږ ته لازمه ده چه خپل ټول اختلافات یوی خواته کړو او پدی حساسو پیښو کی سره یوه خوله او یولاس شو . اولکه ځرنګه چه بی د انقلاب په بری ته رسیدلو کی له هیڅ دول قربانیو ځخه ځان ندی سپمولی داسلامی انقلاب په ساتلو کی هم خپل معنوی او مادی توان ونه سپموی .

بقیه ص ۲۷

دفرهنګی مبارزی ضرورت او ...

خطر سره مخامخ کړیده .

داچی د دریمی نړی په هیوادونو کی سیاسی شعور چندان وده ندی کړی نو ددی و ضعی نه زیاته بهره برداری کوی .

درو سانو استعماری سیا ست چی دمارکسیزم ، لینینیزم ترپردی لاندی عملی کیږی یوازی په نظامی پښتونو لی مخه نشی نیول کیدی . بوازی اویوازی اسلامی ایډیالوژی او اسلامی فرهنګ کولی شی چی دوی محصور اود وراندی تګ لپاره لی خنډ شی موږ باید دوسله وال جهاد تر څنګ خپل فرهنګی جهاد ته هم دوام ورکړو او اسلامی دولتونو ته په کار دی چی خپل منځنی منازعات ختم کړی او دافغانستان دمجاهدینو سره خپل مادی او معنوی ملاتړ ته نو ر هم شدت ورکړی . څو چی په دی تو که په افغا نستان کی د اسلام د دفاع په لاره کی فرض اداکړی اوداسلام بیرغ یوځل بیا دافغانستان په مرکز کابل کی په پوره آزادئ سره ورپړ یږی او ددی هیواد د خلکو له هیلو سره سم اسلامی نظام بیرته برقرار شی .

دو تن از مجاهدین دلیر وهمیشه در سنګر

ماخذونه :

۱ - سوابق تا ریخی تها جم روس برافغانستان

مؤلف آنتولی آرنولد

ترجمه سیدالرسول

۲ - بیانیهٔ جلال الدین فارسی

تاریخی ۶۲/۲/۳۰ : بعدازدستګیری اعضاوسران حزب توده

۳ - حقوق عامه

مؤلف : دکتور سمیع الدین

اوبعضی شخصی یاداشتونه .

عبدلباری غیرت

د هجرت درس

له مکی مکرمی څخه مدینی منوری ته دخدای (ج) د رسول مهاجرت دنیکو او ښو پیښو یوه پیلامه وه په د اسی -تو گه چی دجهان نقشی ته یې تغیر ورکړ .

جها ن یې د شرک له تورو تیارو څخه د ایمان رڼا ته راوکیښ خو باید ووایو چی که هرڅو سره ددې مبارک هجرت په باب څه ووایو اویا قلم راواخلو څه ولیکو نو بیا هم خوله او قلم ددې سپیڅلی هجرت د نتائجو او آثارود لیکلو او ویلو څخه عاجز د ی . د خدای د رسول دوهم خلیفه حضرت عمربن الخطاب (رض) الله تعالی عنه په حقه ؤ چی دتقویم (کلنی) پیلامه یې دهجرت په کال باندی ودروله ، څکه چی دا کال د اسلامی د عوت او تبلیغ دتحول او بدلون یوه نقطه وه په دې ځای کی دخدای رسول ته یوه سر پناه پیدا شوه ترڅو له دې ځایه خپل د حق د عوت ته خپرونه او انتشار ورکړي اودا د عوت په عربی جز یره او بیا په نوره نړی کی خپور کړي .

دامبارک هجرت دخدای درسول په وحی باندې ؤنوڅکه د دې هجرت سره معجزی او د خدای د ساتنی وسائل ملگری وو .

لو د خدای د رسول اودده مبارک یار حضرت ابو بکر صد یق د خلکو په منځه کی راوزی او تیرېږی خو د دوی په سترگو باندې پردی لوېږي او دِوی دواړه له گوری . دوی چه هری خواته روان وو د خدای تائید او ملگرتیا ورسره وه داهم یوه معجزه وه چه د دوی په مبارک غار (یعنی غار ثور) باندی کوتره راغی او د غارپه خوله کی هگی اچوی ، تارکشه راغی اوله دې غار څخه خپل تارونه کشوی تر څو وښودل شی چه دلته د بنیادم قدم له دی لگیدلی پهٔ دې سره خدای تعالی غوښتل چه د کفارو مکر لـه منځه یوسی له همدې کبله خدای پاک (ج) فرمایی واذ یمکر بک الذین کفروا یثبتوک او یقتلوک أو یخر جوک و یمکرون و یمکر الله والله خیرالما کرین .

همدا راز په مدینه منوره کی دانصارو اومهاجرینو ترمنځ مواخات او ورور گلوی داسلامی دعوت په تینگتیا کی ښه رول ولوباوه ، دخلکو سره دقربانی او فداکاری احسا س زیات شو او دخدای په مینه باندې لیامست شول . مدینی منوری دسر په سترگو وکتل چی هلته یو اسلامی حکومت جوړ شو . له یوازی اسلا می حکومت بلکه داسی یو حکومت تشکیل شو چه په نړی کی یې د لو مړی ځل دپاره د شورا او خدای(ج) د شریعت رسـه تینگی کړی چی اوس اسلامی تولنی اوحکومتوله ددې سپیڅلی حکومت میتودو نه په لظر کی لیسی او خپل طرز العمل یې گرځوی .

موږ په دې کی مبالغه نله کړی چه د اسلا می دعوت زړی په یثر ب (مد ینه) کی ښن شو . څکه دخدای رسول په دی ځای امن او امان احسا س کړ . مهاجرین هم چه د کفارو دلاسه یی ناآرامه شوی او ورځی تیری کړی وی اوس آسوده خاطر شول او هر لورته یې

غلام لبی «کوکب»

حبل متین

ما چنگ خود بحبل متین خدا (ج) زدیم
مهر وفا به لوحهٔ صدق و صفا زدیم
زنجیر زلف یار که هر گز نه بگسلد
دستور آن بدفتر جان بی ریا زدیم
ما جان و دل سپرده بجان آفرین مدام
از دل قدم بصحنهٔ ملک فنا زدیم
ما را خیال مرتبه و جاه کی سزد
چون جبهه را بخاک در کبریا زدیم
داریم یقین رفتن خود از سرای دون
زیرا که خیمه در چمن بی بقا زدیم
در وجد عشق یار تغافل نمی کنیم .
چون عقد خوش بصفحهٔ قالو بلی زدیم
در راه حب دوست چو ما را بلا رسید
تحکیم دل نموده زبان بر ثنا زدیم
کردیم چون به آب حیا سینه شست و شو
نور یقین ز شعلهٔ لا منتها زدیم
لرزیده کاخ ظلم حسودان نا مراد
چون ز مزمهٔ آه جگر بر سما زدیم
شاهد ز تماشا شده تاریخ هر زمان
چون ضربهٔ حق بر جگر فتنه ها زدیم
بنگر تو بیا صبر جمیل جذیل ما
چون خنجرش بفرق سر هر دغا زدیم
داریم امید غلطیدن دهریان روس
ما دست چون به تیغ و زبان بر دعا زدیم
«کوکب» بیاد غمزهٔ دستور کشتگان
بر موج غم نمونهٔ هر کربلا زدیم

خونابه زار

(رهسپار)

بهار زندگانی زرد و زار است
جهان چون وادی خونابه زار است
صدای چه چهی بلبل نبینم
بچشم لاله چون موج شرار است

د توریالو مینه

زموږ وطن د بهادرو توریالو مینه ده
چه قهرمان دی دا د هغو شا خلمو مینه ده
هر یو غازی یی په لبنکرو غلبلی جوړی کړي
جهان خبردی چه دا ملک د لومیالو مینه‌ده
ئن مو تمامو نړیوالو ته ثابته کړله
هر سړی والی دا سکن دزمریالو مینه ده
په هر میدان مو ددښمن څخه بری ګټلی
ورته ثابته شوه چه داد بریالو مینه ده
چی بی د سر په بیه تل آزاد ژوندون ګټلی
دا شوه ښکاره چه دا ځای د پتیالو مینه ده
اورنګ زیب وایی سرومال می‌له دی‌مینی قربان
دا په رښتیا د زورورو جنګیالو مینه ده

اورنګ زیب

توریالی ځاځی .

د پښتنو پهلوان

په کابل چی د تکبیر ناره خوره شوه
د روسانو په پوځ جوړه غلبله شوه
زلزلی یی کړي پیدا قیامت جوړ شو
فضا توله سره لمبه وه څمکه سره شوه
چی سبا ته میړنی په دګر غونډ شول
توله سیمه له هیبته ښو رید له
زوړ بودا توره په لاس میدان ته راغی
د وطن مینه یی زړه کی لګید له
بودا نه و یو د پښتنو پهلوان و
خاطر و د پلار نیکه و پار ولای
په وطن یی سري لښکرې راخورې وې
سور الحاد یی پاک ضمیر نشو زغملای
یو څو تانکه د «تاج بیک» له‌لوري راغلل
«ده دانا» کی دقیام په مخکی خنډ شول
خو د زور د خاوندانو وار خطا شو
د ایمان تول‌لیونی په چوک کی ښد شول
د زړې توري په ضرب روسی تښی شو
د زاړه حاجي غفور له لوړ همته
مخامخ له بله تینګه دز پرې وشو
شو شهید حاجی بابا پریووت په څمکه

د ۱۳۵۸ دکب ددریمی وړځی خاطره

دخیر صلاح اونیکی پلوشی وشیندلی پەدې هجرت سره کامیابی او بری ته لاره خلاصه شوه کومه چه خدای تعالی وعده کړی وه خپل رسول ته او مؤمنانو ته دلته د شرک په قوت باندې غلبه وموندل شوه اود کفارو سرمشران دبدر په جګړه کې له منځه ولاړل ،مکه مکرمه فتحه شوه اوخلک ډلی ډلی دخدای په مبارک دین کی داخل شول .

او بیا داسلام مبارک دین دعربو په جزیری کی ورو ورو خپریده چی بیا شمال جنوب ، لویدیځ او ختیځ ته ته ئی غزونه کوله دهجرت د معجزو څخه داهم وو چه دخدای رسول او حضرت ابوبکر (رضی الله عنه) یوی غربی ښځی ته ورد ریدل چه څه خوراک تری واخلی هغی وویل چی زه خواره یم څه نلرم دوی وویل د غه سیره خو شته ، دی وویل چه داخووچه ده دخدای رسول وفرمایل چی تاسو یی ولوشی کله چه ئی ولو شله په پیو راغله او تر آخره پوری یی زیاتی شیدی ورکولی . دادمدینی زمکه هم نورهشادابه او سرسبزه شوه اوبرکتونه پکی نازل شو ل د خلکو ژوند لوړ هم دده دبرکته آسوده اوښه شو .

نو موږ کله چه دهجرت پیښه متر کو ته درووښایی چه دخدای په کتاب او په سنت رسول الله باندی عمل وکړو . په دې بحث او پلټنی وکړو ځکه چه په همدی دواړو کی دکامیابی او نصرت اسباب موندل کیږی او لومړنیو مسلمانانو هم کامیابی پری حاصله کړی وه . موږ ددې په رڼا کی بائی جهاد ته ادامه ورکړو او باطل دښمن رانسکور کړو . دا دښمن یوازی په افغانستان کی د افغانانو د ښمن نه دی بلکه په هره برخه د دنیا کی دمسلمانانو دښمن دی او باید اسلامی نړی بیداره او متحده واوسیږی .

دافغانانو له یاره دکمونیزم نتایج او لاس ته راوړنی

دولسي ادب دخپرولو په لړکی :

حاجی حبیب

الحاج عبدالکریم رسوا او د هغه شاعری

سیلا بونه د سرو وینو باندی راغلل
پر وطن مو جوړه شوی کربلا ده

د افغانستا ن د مسلمانوخلکو میړنی پاڅون چی د دې کوچني خو ایمانداره او غیرتمن ولس په سربښندنه او جانبازۍ پیل شو د افغاني تولنی په تو لنیز کالبوت کی یی د مبارزې یــو داسی ژوندی او بیدار روح وربوکی چی د هغې دژوندااله په‌تولو اړخونو کی یی د یو اسلامي ژور بدلون الګازې خورې کړې . خلک یی کمونستي استبداد ته د تسلیمید و په ځای د جهاد سنګرونو ته راوبلل او دخپلو غازیانو او شهیدانو پلرونو او نیکونو د تړ با نیو او قهرمالیو تلپا تې یادونه یی ددوی په ذهنونو او دماغونو کی بوځل بیا راژوندې کړل . دا بی‌دفاع او تش لاسی ولس پوره لس کاله وجنګیدی . سرونه یی نثار کړل ، وینی یی وبښندلی ، له‌مال جایداد ، ځمکو ، باغونو ، کور او کلی څخه تیر شول خو د ذلت او غلامی ژوند ته یی غاړه کینښوده .

دې قیا م او د دې تـو لنیز اوښتون که لەیوې خوا دبګړې په ډګرونو او د جهاد په نه ایلیدونکو تودو سنګرونو کی داسی نامور او زړور اتلان وزیږول چی د غازي اکبر خا ن ، عبد الله خا ن اڅکزي میربچه خا ن ، غا زي محمد جا ن خا ن امین‌الله خان لوګري او نو ر و نامتو اتلانو دغیرت ، زړورتیا ، شهامت او اتلولۍ بی مثاله ویاړونه یی‌تر لاسه کړل ؛ نوله بلی خوا یی په فرهنګی سنګر کی هم د یادوني وړ بډنونۍ رامنځ ته کړې .

نن ورځ دافغانستان د مجاهدو لیکوالانو دقلم څوکی د تیرو توررو او خنجرونو په شان زمونږ ددین او وطن ددښمنانو زړونه څیري آوددوی نا ولي او شیطا ني نیتو نـه رسوا کوي .

نن د پښتو ا و دري ژبو شعر او ادب له پرو ن سر ه ژور تو پیر پیدا کړی دی . هغه دا چی نن‌شعر او ادب د ولس د ریښتینی ا و واقعي ژوندانه او دوخت دبنیادي غوښتنو انځورګر د ی . دا بد لو ن له یوازې داچی په هغو ادبي محافلو کی منځ ته راغلی کوم چی د لوړ تحصیلاتو د پوهنتونونو او کالجونو شهادتنامی لري بلکی ولسي شعر او شاعرۍ او او ولسي ادب ته یی هم مخه کړې ده او د و لسي شاعرانو محافل او دیرې یی هم نیو لي د ي چی مو ږ دلته دولسي شاعرۍ یوه ممتازه څیره ګرانو لوستونکو ته وروپیژنو :

ا لحا ج عبد ا لکر یم ر سوا د کندهار پــه سندریزه شاعرۍ کــی ممتاز نوم لري . دکندهار په شاعرانه او هنري محافلو کی به داسی څوک پید ا نه شي چی د رسوا له شاعرۍ سره آشنانه‌وي . ددې سو لې مشر به شاعر زړه یو مخی له سوز او ګداز

وطن خواهي، بدلي او نور متفرق اشعار دي».

ښاغلي رسوا زما ديوې پوښتنې په ځواب کې وويل چې زه اوس ديو داسې ديوان څښتن يم چې ۲۵ زره غزلې لري چې ټول ۱۲۵ زره بيتونه کيږي. سره له دې چې رسوا يو بې سواده شاعر دی خو شعرونه يې خواږه او په ادبي صنايعو او بدايعو ښکلي او مزين دي. احمدبلال درسوا د شعر په هکله داسې ليکي:

«د رسوا ژبه ډيره خوږه او اشعار يې د ادبي صنايعو او بدايعو څخه ډک دي. شعر يې روان او سليس دی. دده شعر د هغو خلکو د احساساتو ترجماني کوي، چې د هغوی په منځ کې اوسيږي. نوموړی يو متقي، پرهيزګاره او دين دوسته ځوان دی. اکثره غزلې يې د ديني تبليغ او نصيحت څخه بحث کوي دی په خپلو اشعارو کې د خپلې بې علمۍ غندنه هم کوي او نورو پښتانه ورونه دعلم او عرفان روڼيانه د يوې ته رابولي چې فيض ورڅخه واخلي».

لکه څنګه چې دمخه يې ذکر وشو الحاج عبدالکريم رسوا د غوث الاعظم شيخ عبدالقادر ګيلاني «رح» دطريقت دتاوده لمريو يې ريا مخلص او مريد دی. نو څکه يې دکمونستانو د سره تاتار په پيل کې چې د افغانستان مجاهد او ايماندارو ولس جهاد ته ملا وتړله او د روس دکمونستي تيري او يرغل په وخت د جهاد جذبه لا نوره هم توده شوه عبدالکريم رسوا راغی دخپل پير تر څنګ ودريد او په پوره ميړانه يې خپل جهاد ته دوام ورکړ. دی اوس په بلوچستان کې اوسيږي او د افغانستان د ملي اسلامي محاذ تر رهبرۍ لاندې دخپل مقدس دين اسلام او خواږه وطن افغانستان څخه ددفاع په لاره کې د روس کمونستي ځواک دتيري کوونکو خونړيو لښکرو اود هغوی د بې دينه او بې غيرته لاسپوڅو په مقابل کې په ډيرې ميړانې سره جهاد کوي.

لکه څنګه چې د افغانستان د ولس دژوندانه په ټولو اړخونو کې ژور بدلون منځ ته راغلی دی هرچا خپل هر څه د جهاد له پاره وقف کړي دي، دغه راز شعر او ادب هم د جهاد په خدمت کې دی چې په همدې لړ کې د رسوا شاعرۍ هم ژور بدلون موندلی دی. که څه اوس هم دده شاعري دده دولس د ريښتيني او واقعي ژوندانه ځرګندوونکې ده خو په دې توپير چې اوس دده د ژوندانه ماحول ددارالهجرت ماحول دی. د کونډو يتيمانو، يورو او ورارو ماحول. د سپينو کيږديو اويا د خټو خام کچه کورونو کې [illegible] چې د شهيدانو او غازيانو کورنۍ پکې اوسيږي. کله چې ددغو کمپونو په کوڅو کې سرې وګرځې او تقريباً دزياتو کورونو ترمخ بيښکلې او کلا لې ماشومان ووينې چې په خپل پلرني خواږه وطن کې يې دسره تاتار دظلم او ستم په دوزخي تنې کې د خپل بدن اعضاء له لاسه ورکړي دي سپين ږيري او ځوانان په ووينې چې دپا ښې نشته اودپا لاسونه. د داسې شهيدانو بچيان په ووينې چې خپل ځانونه يې د خپل مقدس دين او خواږه وطن ددفاع په لارکې قربان کړي دي خو اولادونه يې دلته په فقر اوبې وزلۍ کې شپې تيروي:

دعبدالکريم رسوا په وطن کې اوس د پوځونو جنګ زلزلې او طوفانونه روان دي. دروس کمونستي لښکرو د لنکوټونو په دې ميږ نو زړه‌وونکې خاوره دظلم او تيري يو بې مثاله تاتار جوړ کړی دی. د ميرويس هوتکي او غازي احمد شاه مينه اوس د اورونو او ويرونو په يو جهنم بدله شوې ده. کندهار اوس هغه ښايسته کندهار نه دی؛ چې دمينې او خوښۍ ميلې به پکې جوړې وې او دشعر او ادب محفلونه به يې

بسم الله الرحمن الرحیم

محاذ

در هر دو ماه یکبار نشر می شود

سال دوم- شماره دوم دلو- حوت ۱۳۶۶ هجری شمسی

مطالب عمده ای

که درین

شماره میخوانید

۱ - د کب میاشت د مسلمانو پرگنو د پاڅونونو میاشت ده .
۲ - مفهوم طاغوت از نگاه علما (لیکوبان) .
۳ - رسالت قلم و اهل قلم .
٤ - نقش مسجد در رهبری انقلاب اسلامی .
٥ - دیالکتیک .
٦ - افغان مجاهد ولس به د اسلامی حکومت تر جوړیدو پورې جنګیږي او د کمونستانو سره هر ډول سازش او ګډون خیالات بولي .
۷ - سلطان العلماء .
۸ - د فرهنګي مبارزې ضرورت او اهمیت .
۹ - د هیواد له یوه تجربه کار عالم سره مرکه .
۱۰ - د هجرت درس .
۱۱ - الحاج عبدالکریم رسوا او د هغه شاعري .
۱۲ - مجاهدین باید از توطیه های تفرقه انگیز دشمن مطلع باشند .
۱۳ - مادر عبداله .
١٤ - توده تاوخانه .
۱٥ - سلاح و آموزش آن .
۱٦ - شهدای راه حق .

ادرس ما :

د افغانستان ملی اسلامی محاذ

فرهنګی ریاست

د نشراتو لوی مدیریت
پوست بکس ٥۳۲
کابیان - پشاور - پاکستان

په انفاذ د هر قانون ورته پيښ شوی خجالت دی ‌ ‌ ‌ سر تير و افغانانو پام چی وار مو د غيرت دی
درواغ وابي ناري وهی چی دا موعدالت دی ‌ ‌ ‌ د اسلام په پاکه خاوره نن راغلی مصيبت دی
نړکه ته شوه ښکاره ددوی ټول کار د شيطانت دی ‌ ‌ ‌ د غازيانو په وطن کی تاتار جوړ لښ د هريت دی
د روس په همکاری پښيمانی وکړه غلامانو ‌ ‌ ‌ عبدالکريم رسوا وايم لعنت پسر غدارانو
بيرک کارغل يسی راوستی ملحدو دهريانو ‌ ‌ ‌ بيرک کارغل يسی راوستی ملحدو دهريانو

ژاړی

باداران يی شوه مردار غلامان ژاړی
د روسانو زرخسريد مزدوران ژاړي
لار دتيښتی نه لري په مرگ رضا د ي
په پوستو کی کلابنده روسان ژاړي
په درواغو نه خلاصيږي له افغانه
کورباچوف ته نن خلقيان - پرچميان ژاړي
مسا عبدالکريم رسوا کړل ولړی ته
پسر مرام د کمونست منکران ژاړي

چی کتل يی د آسمان وکناروته

په مارکسو په راوتل و بازارو تـه
څوک يی هيڅ نه‌پريښودل خپلو کاروته
څنی هير د پښتونتام و لپسا ن و
پام يی نه و د افغان و تاريخو تـه
پسر کنی يسی بر لاحته څوروليی
په تعجب و ټول ولس ددوی نخرو ته
"ما عبدالکريم رسوا غندلي و ير دي
چی کتل به‌يی د آسمان وکنار و ته

په دې مقاله کی له لاندې منابعو څخه استفاده شوې ده:

۱ ـ کندهار مجله د دوهم کال پنځمه گڼه ـ ۱۳٤۰ لمريز کال د اسد لومړکه ليته.

۲ ـ د عبدالکريم رسوا سره دليکوال مرکه.

۳ ـ د رسوا جهادي شعروه.

برمنافع کارگرو دهقان بحیث نیروی اصلی کار وتولید از یکطرف و ازبین بردن بزرگان جامعه بنام طبقه حاکمه از جانب دیگر بود . روسها باتبلیغ الحاد در جوامع این قصد را د اشته اند که انسان را فاقد اتکای معنوی ساخته ویک چیز تهی از همه ارزشها بندی کنند ، زیرا انسان مومن حاضر نیست به برده‌گی وپستی تن در دهد وقصد شان از دور ساختن چهره های مو من و مدبراین بوده است که‌یک جامعه فاقد چهره های رهنما و مدبر را میتوان زود تر بدام افگند ، حزب کمونست‌روسیه بنام‌برقراری مساوات در جامعه زیر ساطور استبداد پرو- لتا ریا این اغرا ض خود را دنبال کرد . در هیچ نظام سیاسی واداری کشتار ووحشت به اندازهٔ کمو نیزم وسیله پخش تسلط حلقه حاکم نبوده است . کمونست ها تمام انسان های شر یف را که از ایمان ، آزادی و کرامت انسانی د فاع میکرده اند زیر نام دشمنان مردم و منافع عامه گردن زده اند . عجب هم این است که این همه کشتار و بیرحمی خاص برای آن‌صورت گرفته است که منافع یک طبقهٔ سفاک بنام گروه کمونیست ها مصؤن باشد و امپرا طوری سرخ ها نه تنها دست نخورده بماند بلکه بحدوده این امپراطوری وسعت‌بیشتر یابد روسهادرلای کلمات‌رنگین واما آدمکشی بی نظیر تاریخ ملل مختلف را زیر پرچم سرخ مسکو آور دند و در خلال کمتر از سی سال‌امپراطوری سرخ تزاری را در یک ششم کرهٔ زمین تشکیل دادند . که این امپرا- طوری بخون سا خته و این حرا فی های فریبنده یک تعداد مردم را بنام چهره ها و حلقه های تر قی در دام کمونست ها قرار داد و این خود سر آغازی شد برای پهن سازی امپرا- طوری روس ها تو سط حلقه های مزدور وملحد داخلی در کشور های خورد و ریزه ، همین چهره ها وحلقه های نو پروردهٔ روس بود که درین کشور ها برای حمایت از راه وروش کمونست های روس ، صدا بلند کر- دند ، راهپیمائی و میتینگ تشکیل دا دند ، به فر یفتن اذ هان شروع نمودند ، خود را متر قی ورو شنفکر جازدند ، این وآن را مسؤل پسما نی و نابسانی قلمداد کردند ، چهره های رو حانی و دلسوز را تا په زدند و مربوط این حلقه وآن حلقه شمردندو چارهٔ همه کار ها را در یک نسخه نوشتند که آن رد جریان موجوده و رویکار آوردن یک رژیم کویامترقی می باشد . این جناح چون‌از حمایت مادی ومعنوی مسکوبر خوردار بود لذابسرعت نمومیکرد وریشه میدواند که ملت مؤمن و آزادهٔ افغا نستا ن متأسفانه سی سال‌میشود با این‌جریان پنجه رو برو شد و روسها این دانه های خبیث را در بطن جامعهٔ مارشد دادند تا اینکه دهسال پیش افغانستان عز یز ، افتخار ما وافتخارآنها و جهان در کام کمونیزم روس افتاد .

دهسال تمام است که ملت مسلمان افغانستان در آتش بیرحمی کمونیزم روس‌می سوزد ، وطن‌ما به‌کانون یک جنگ تمام عیار روس مبدل شد ، شمار شهدای ما ، مها جر ما ، زخمی ومعیوب ، یتیم وسوگوار درتار یخ معاصر ازهر رویداد الم انگیز دیگر بیشتر است این همه جفا و ستمگری وسفاکی را برای این ملت افغانستان قبول نمود که بند اسارت روس‌کمو- نست را در دست خود قبول نکرد رد کمونیزم در افغانستان‌ردنمونه‌یی بود که مردم ما به قیمت جان وخون خود آنرا نفی کردند و باین صورت فورمول قبول شده کمو نیزم را در جهان رد وباطل کردند که این ایثار گری و جانبازی برای با طل ثبوت کردن یک طرح‌ومفکوره باطل کار بی ما نند بود که تو سط افغا نان مومن در سر زمین آزاده افغا نستان صورت گر فت . افغان ها می با لند از ینکه به قیمت خون خود طرح کمونیزم را در جهان با طل سا ختند

بدور می افگند واما خوشی ما این است که این تعداد پلید و گمراه کننده کم اند ـ میدانیم هزاران تن دیگر رااین ها فریفته بودند ، هزاران تن دیگر را این ها بدامان کمونیزم روس افگنده بودند ، وقتی این چهره های شان واز عقب میله های زندان برای خدمت اجباری عسکری سوق شده اند ماميدانيم كه هزاران جوان ما با فریب وریای روس به قلمرو روسیه فرستاده شده اند ، ماميدانيم كه هزاران هموطن ما به اجبار در حلقه آنها خود در آتشی بسوزند که برای سوختن ملت ما افروخته بودند ، در تاریخ همیشه نیکو کاران پیروز وبد کاران نابوداند ، بایدهمه آنهای که در وطن ما روی اجبار ویا بی میلی در کنار رژیم دست نشا نده روس

روسان روان دي خوددوى وبحارشوى موټر او ټانکرونه بلددوى د شکست ننښبه وي .

ها جز و محکوم تا ریخ شوند که شد ند ، آنگاه هزا ران تن دیگر با اظهار ندامت در سا یهٔ لطف مر دم خود قرار میگیرند ، ندامت با صداقت عفو را در قبال دارد . ما میدانیم که هزاران جوان ما جبراً و از خا نه کار رژیم مزدور نگهداشته شده اند. اما ا کنون مر حله رسیده است که باید همه با وجدان بیدار در کنار مردم خود قرار گیرند ، مرد می که برای ایمان وآزادی خود سرداده اند وآن گروه اندک را تنها بگذارند تا قرار گرفته اند ، با جدائی از آن و پیوست با ملت مجاهد افغانستان در آخرین روزهای دشوار زند گی دین خود را دربرابر دین وغرور وطن بجا آرند واجازه ندهند درروزهای پیروزی از جملهٔ آنها شمرده شوند که دوست دشمن ودشمن هموطن خود بوده اند.

تن از افراد دشمن کشته از جمله امر سیاسی فرقه و پشخور را زنده دستگیر و به سزای اعمالش رسانیدیم وتعداد زیادی از آنها مجروح گردیدند ، از جمله چنین حملات وسیع دشمن دیگر آن در سال ۱۳۶۶ بود که آنهم مدت سه ماه و هشت روز ادامه داشت .

در جواب این سوال من که ایا عملیات مؤفقیت آمیز و مهمی را علیه دشمنان اسلام انجام داده اید گفت که : جهاد ما که یک پدیدهٔ اسلامی و به امر خداوند متعال آغاز گردیده و چون هیشه نصرت خداوند (ج) با مجاهدین راه حق همراه بوده است به این منظور همه عملیات مایان علیه اشغالگران به فضل خداوند (ج) مؤفق بوده ومی باشد و باید یادآور گردم که مایان طی عملیات خودیک ولسوالی را بنام ولسوالی سرخ پارسا که مربوط ولایت پروان میباشد آنرا آزاد نمودیم برعلاوه بالای پلخمری بغلان ، نهرین وکندز نیزعملیات نموده ایم .علا قهدار علی آکبر راکه عضو بدنام حزب کمونست بود نیز گرفتار نمودیم . بعدآدرآن مناطق قوماندانان راخودم تعین وپروگرام های جهادی وسیع را روی دست گرفتیم .

از قوماندان بازمحمد(برفکی) پرسیدم که بنا به گفتهٔ ایشان کهدر پلخمری بغلان ، نهرین وکندز به فعالیت های دست زده از ساحه عملیات و فعالیت های جهادی خود برایم معلومات دهد گفت که : **خودم در چهار ولایت یعنی بامیان ، سمنگان پروان ، و بغلان مجاهدین مسلح تحت قومانده خوددارم و درین مناطق اکثریت مردم باخودم اتحادکامل دارند . به تعداد (۳) قرارگاه اصلی و (۱۹) قرارگاه فرعی راتشکیل نموده‌ام ودرحدود (۹۰۰۰) تن مجاهد مسلح به فعالیت های جهادی درآن مصروف می باشند .**

در حالیکه قوماندان صاحب از چنین یک تشکیل وسیع برایم حکایت می کرد توجه مرا بسوی پروگرام های بهبود اجتماعی ازقبیل شفاخانه کلینیک وتعلیم و تربیه اطفال جلب نمود و در مورد از ایشان خواهان معلومات مزید گردیدم . قوماندان صاحب درحالیکه علاقه‌مندی بیشتری رانشان میداد درپاسخ گفتند که : چون برای شما بهترمعلوم است که مشکلات مایان زیادبوده لیکن باآنهم ماتوآ- **نسته‌ایم مراکز کوچکی صحی ویک کلینک تقریباً مجهز که روزانه بسیاری از مردم از از نقاط دور دست به آنجا غرض تداوی و معالجه می آیند تشکیل نمایم درین کلینک مریضان داخله و جراحی بصورت بهتری تداوی می شوند و مردم ازین بابت خاطره خوبی دارند . بر علاوه در مورد تربیت اطفال که مجاهدین فردا خواهند بود نیز پروگرام های را روی**

بقیه درص ۵۳

مدرسه که اطفال مجاهدین درآن مشغول آموزش دینی میباشند

آمده عبد الله که از دکان سلمانی آوردینش. دروازه‌بان به‌اطاق کمیسار رفت وموضوع رابه او گفت کمیسار گفت: رفیق فریباره بگو که تلاشی شان که باز بیاریشان.

